مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد معصوم هوتک

۲۰۱۸/۰۹/۲۸

# شیخ املاء بخارايي څوک وو؟

په پښتو ادب کې د شیخ املاء محمدي بخارايي (۱۱۶۴ هق مړ) له نامه سره موږ وار د واره د عبدالرحیم هوتک په کلام کې مخامخ سوي یو. عبدالرحیم هوتک چې له خپلي پلرنی مېني څخه تر وتلو او یو لړ اوږدو سرګردانیو او مسافرتونو وروسته بخارا ته رسېدلی دئ، هورې ئې د شیخ املاء بخارايي پر مینه اړولي دي، د هغه لاس نیوی ئې کړی او د خپل پیر تر وفات وروسته ئې د ارشاد پر مقام کښېنستلی دئ. دی په خپل دېوان کې د خپل پیر شیخ املاء ډېري یادوني لري:

بنده غلام یــــــم زه د املاء
پای بـند پـه دام یـم زه د املاء

هـوا مـي نـه شي و بـل مقام ته
ناست پــر مقام یـم زه د املاء

په یوه اوږدقصیده وشمه نظم کې ئې د خپل پیر شمایل بیان کړي دي چې د سر بیت ئې داسي دئ:

د کـامل صفت بـه کـــړمه، په لسان افغاني
راته غوږ باسئ عالمه، دا زما پر پُر رويي

په دغه نظم کې د اولیاوو "سرحلقه" پنځه تنه بولي چې یو ئې د ده مرشد شیخ املاء محمدي دئ:

سرحـــــــــلقه د اولیاء پنځـــــه کسه دي پیدا
بایـزیـد، عـبدالـــــــــقادر، هم احمدي بدَوي

څـلـرم عبدالخالق، پـه سلوک کښي وو فـایـق
دا پـنـځم مـحـمدي، شیخ امـــلاء ورته وایي

ما چي په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې د عبدالرحیم هوتک دیوان د صحاف نشراتي مؤسسي له لاري خپور کړ، هورې مي له لوستونکو سره ژمنه کړې وه چي " زه به که د پاک خدای رضا وه، د عبدالرحیم هوتک د پیر شیخ املاء بخارايي په باب یوه بله لیکنه سربښته کړم". ( دیوان ـ ۳۰ مخ)
د شیخ املاء په باب زموږ هیوادني منابع دومره زیات څه نه لري یا به زه نه یم پر پیښ سوی . ښاغلي حبیب الله رفیع د (مهاجرتنامه) په لسم مخ کي " د منځنی آسیا لوی روحاني او ادبي شخصیت"بللی دئ، نور تفصیل ئې نه دئ کښلی. د فارسي ـ تاجیکي لوی محقق لیکوال او ادیب او د شوروي تاجیکستان د علومو اکاډیمی لومړی رئیس صدرالدین عیني (۱۸۷۸ ـ ۱۹۵۴ع) په خپله مشهوره تذکره ( نمونهٔ ادبیات تاجیک) کي دو اویایم شاعر همدغه (املاء) ثبت کړی دئ او د هغه په باب ئې صرف یوه جمله کښلي ده چي " وفات ۱۱۶۲ ـ بلخی است و در بخارا نشو و نما یافته است"[1]. تر دغي جملي وروسته ئې د شاعر یوه غزل راوړی ده چي مطلع ئې داسي ده:

عرش مجید اعـــــظم، پروانهٔ دل ما
حوران پاک سیرت، فرّاش منزل ما[2]

د شیخ املاء او د هغه د مرید عبدالرحیم هوتک د ژوندانه د تیاره اړخونو د لا روښانولوله پاره مي د شیخ املاء بخارایي دېوان ته ډېره اړتیا درلوده او تر ډېرو هڅو وروسته مي دغه دېوان د ښاغلي ډاکټر شیرحسن پر لاس د ښاغلي دوکتور لطیف بهاند په مرسته تر لاسه کړ. زه ددغو دواړو ښاغلو د مرستي له اسیته ډېر ډېر منندوی یم.

دغه دېوان د دکتور شاه نیاز موسی یف او دکتور جعفر محمد ترمزي په " گردآوری و تصحیح" او د دکتور حبیب صفرزاده په اهتمام او سرپرستی په تاشکند کي د " انتشارات بین المللی الهدی" له خوا په کال ۱۳۸۸هـ ش کي خپور سوی دئ. دېوان د هغي یوازنی خطي نسخي له مخي برابر سوی دئ چي د ابوریحان بیروني د ختیځ پېژندني د څېړنیز مرکز په قلمي زېرمو کي خوندي ده. دا څېړنیز مرکز د امیر علیشیر نوایي په نامه د ازبکستان جمهوریت په عمومي دولتي کتابتون پوري تړلی دئ او د قلمي آثارو یوه درنه زېرمه یکښي خوندي ده چي دعربي، فارسي، تاجیکي، تُرکي، ازبکي، ایغوري، تاتاري، ترکمني، آذري، اردو او پښتو ژبو پخوانۍ خطي نسخي پکښي دي.د خطي نسخو شمېر ئي تر ۱۳۸۸هـ ش کال پوري ۲۵۶۲۱ نسخو ته رسېدلی وو او اوس ښایي زیات سوی وي.

ددغه دېوان ټول مخونه ۳۰۳ دي چي په دې کي لس مخه د دېوان په سر کي" سرسخن"، " پیشگفتار" او "مقدمه" ته ور ایستل سوي دي.په مقدمه کي ئي د شیخ املاء بخارایي په باب یو لړ معلومات راغونډ کړي دي چي تاداو ئي د نوموړي کتابتون په همدې خطي زېرمه کي د (بیاض) په نامه په نونسمه میلادي پېړۍ کي پر یوه بله تهیه سوي قلمي تذکره ، د ملا عبدالرحمن تمکین پر خطي اثر ( مطالع الفاخره و مطالب الظاهره)، د بخارا د یوه منغیتي شهزاده ناصرالدین توره بخارایي پر قلمي ( تحفة الزائرین) او دغه راز د مخکي یاد سوي صدرالدین عیني پر تذکره ( نمونهٔ ادبیات تاجیک)ولاړ دئ. په (نمونهٔ ادبیات تاجیک) کي ئي د صدرالدین عیني د " اظهارات" له مخي کښلي دي چي په سلوک کي د حضرت املاء بخارایي نسبت حسن بصري او کمیل ابن زیاد او حضرت ابوالعباس او حضرت ابو یعقوب شهرسبزی ته رسېږي او د مور له خوائي نسَبي ریښه په درویشت نسله کي حضرت علي ابن ابي طالب ته رسېدلي ده. لکه ماچي څو کرښي دمخه هم اشاره کړې ده، د صدرالدین عیني په تذکره کي د شیخ املاء په باب له هماغي یوې کرښي پرته نور څه نسته. دا چي د دېوان مقدمه ښاغلي لیکونکي د شیخ دغه سلوکي او نسَبي اړیکي د صدرالدین عیني د " اظهارات" په حواله کاږي، ښایي مراد ئي له ( نمونهٔ ادبیات تاجیک) پرته د عیني په کوم بل اثر کي راغلي " اظهارات" وي. ځرنگه چي د مقدمي لیکونکي ددغو اظهاراتو دقیق ماخذ ښوولی نه دئ، نو ئي د معلوماتو همدغه برخه د نورو منابعو له ملاتړ پرته د تامل وړ ده.

ددغي مقدمي لیکوال کښلي دي چي شیخ املاء د افغانستان د بلخ ولایت په سنگارک کي په ۱۰۹۹ هـ ق یا ۱۱۰۰ هـ ق کال زېږېدلی دئ. له "سنگارک" څخه به ئي مرادسنگچارک یا سنچارک وي چي د اوسنیو تشکیلاتو له مخي د سرپل ولایت یوه سیمه ده. دغه راز ئي زیاته کړې ده چي املاء د تحصیل په نیامت بخارا ته تللی او هورې ئي دایمي استوگنه غوره کړې ده[3].

د (مطالع الفاخره و مطالب الظاهره) په حواله ئي کښلي چي شیخ املاء بخارایي په ځینو ادبي او تاریخي منابعو کي د" املاء اخوند محمد(محمدی)، املاء علاء الدین ابن عزیز ابن شیخ یوسف الدین ابن هارون خواجه عرب ..." په نومو یاد سوی دئ.

د ( بیاض) په نامه قلمي تذکرې په حواله ئي کښلي دي چي د شیخ املاء زېږند ځای بلخ او نوم ئي محمود وو. دغه راز ئي د همدې منبع په استناد زیاته کړې ده چي املاء د میرزا بهادر مرید او د خواجه حافظ دېوان ئي " تتبع" کړی وو. په تاجیکي فارسي کي ځیني عربي کلمات په داسي ډول او معنا کاریږي چي د فارسي نوري لهجې ئي په همدغه راز نه کاروي. له همدې اسیته ما(هوتک) ته اوس سخته ده چي له "تتبع" څخه د مقدمه لیکونکي د زړه مراد معلوم کاندم.

د (تحفة الزائرین) په حواله ئي کښلي دي چي املاء نه یوازي د خپلي زماني تکړه شاعر وو بلکي د اسلامي معارف له پیشوایانو څخه هم وو او په سلوک کي ئي د څلورو مرشدانو څخه اجازه تر لاسه کړې وه.

د شیخ املاء په باب دا خبره عبدالرحیم هوتک هم په یوه شعر کي کړې ده . ده ویلي دي:

هم کامل هم مکمل وو هم نقشبند هـــم صاحبدل وو
طریقي ئي ټول په لاس وې ته (تر) چشتي ته قادري
( دېوان ۱۹۶مخ)

بل ځای ئي د خپل ځان په حق کي له خپل پیر څخه د څلورو طریقو د ارشاد اجازې ته داسي اشاره کړې ده:

اې " رحیمه" د " املاء" له بـــــــرکته
ولاړې ولاړې د څلـورو ښهرو خان شوې
(دېوان ۱۹۵ مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د شیخ املاء د دېوان په مقدمه کې د تحفة الزائرین په حواله[4] کښلي دي چې ده په خپل وخت کې د" جامع السلوک" لقب ورکول سوی وو.
د وفات کال ئې ۱۱۶۴ هـ ق بللی دئ او زیاته کړې ئې ده چې په (بیاض) نومي تذکره کې ئې د وفات تاریخ داسي ښوول سوی دئ:

گفت در گوش من خرد صد بار
"پیر کامل ازین جــهان رفتند"

د وفات تاریخ ئې دوهم نیم بیتی دئ چې ابجدي ارزښت ئې (۱۱۶۴) کېږي. په ( نمونۀادبیات تاجیک ـ ص ۱۷۱) کې ئې د املاء د وفات نېټه ۱۱۶۲هـ ق کښلې ده چې ناسمه ښکاري. (د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني او منځنی دوره ) نومي کتاب په ۱۹۳ مخ ـ چاپ ۱۳۷۹ش کې د کتاب لیکوال کښلي دي چې د عبدالرحیم هوتک د دېوان پر کومه خطي نسخه باندي د یوه یاداښت له مخي د عبدالرحیم د وفات کال ۱۱۶۲ هـ ق ښوول سوی دئ. ددغه کال د ناسموالي دلایل ماد عبدالرحیم هوتک ددېوان د سریزي په ۲۳ ـ ۲۵ مخونو کې راوړي دي. اوس چې مي د صدرالدین عیني په تذکره کې د املاء د وفات کال (۱۱۶۲هق) وکوت، یقین مي سو چې د عبدالرحیم د دېوان پر خطي نسخه باندي د راغلي یاداښت نېټه د شیخ املاء د وفات ناسمه نېټه ده چې په عبدالرحیم هوتک پوري تړل سوې ده. پښتانه وایي چې تر ځو حقیقت ځرگندېږي، گوره خومره کلي به وران سي.
دشیخ املاء دغه فارسي دیوان څه دپاسه اته سوه غزلي (نژدې شپېږ زره بیته)، اتیا رباعی ( نژدې ۱۶۰ بیته) او درې مثنوي لري چې د ټولو بیتو شمېر ئې تر ۶۱۸۰ بیتو اوړي. املاء د زیاترو ادبپوهانو په نظر د هندي سبک پیرو شاعر دئ او کلام ئې لازم پوخوالی لري.
عبدالرحیم هوتک له خپل روحاني مرشد څخه نه یوازي د طریقت رموز او کوایف زده کړي او عملي کړي ول، بلکي د هغه د شعر ښکلاوي، استعارې او کلامي ښېگني ئې هم پسي پاللي او په خپل پښتو شعر کې په یو څه بدلون ځای کړي وې. ددې اغېزو څو مثالونه به ئې ولولو:
املاء وایي:

املاء، زِ عمر خویش چه حظ می کند کسی؟
نبوَد جمال ســـــــاقی فـــــــــرخنده در ایاغ
(دیوان ـ ص ۱۶۴)

عبدالرحیم وایي :

څه ښادي پــه عمـر کړي عبدالرحیمه
چي جـــــــمال نه وي د یار د دَر ایاغ
( دیوان ـ ص ۶۷)

املاء وایي :

با یک قدح باده پُر زور فـــرح بخش
میساز گرو خرقه و دستار بــه نوروز
(ص ۱۴۱)

عبدالرحیم وایي :

د ساقي لـه لاسه ډکـه پیاله واخـــــله
ورته گرو د سر دستار کړه په نوروز
(ص ۶۳)

املاء وایي :

بسکه املاء صرف عمرم گشته در سودای عشق
یک ســــــــــخن نبود به غیر عشق در دیوان ما
(ص ۳۸)

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

عبدالرحيم وايي :

درست عمر مي صرف په عاشقۍ کښي شۀ رحيمه
نشته بې له عشقه بل کلام زمـــــــــا په ديوان کښي
(ص ۱۵۹)

ددې بحث د حُسن ختام له پاره به دا خبره هم پر زياته کړم چي زموږ د زماني ځيني لنډ فکره کره کتونکي په پښتو شاعري کي د متقدمينو د کلام اغېزي په پيغور ډوله انداز غندي، خو دي ته ئي پام نسته چي زموږ د عصر دفارسي ملک الشعراء استادسخن عبدالحق بيتاب د ديوان پر لومړي مخ دابيت کښل سوی دئ:

در حيرتم که در نگـــــرفتست از چه رو
ديـوان مـن کـه از سـخن آتشين پُر است[5]

دغه مطلب د ملک الشعراء بيتاب تر ژوند نژدې دوه سوه کاله دمخه پښتو لسان الغيب رحمان بابا داسي ويلی دئ:

د رحمان و سوزان شعر ته حيران يم
چي ئي اور بل شوی نه دئ پــه ديوان
( ديوان ـ ۱۱۴مخ، چاپ ۱۳۵۶ش، کابل)

+++++++++

آشاوا ـ کاناډا
۲۷ / سپتمبر/ ۲۰۱۸ع


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ